الدرس الخامس پنځم درس

المسح على الخفين موزو باندي مسح

دا داسلام آسانتيا او دالله تعالي د مهربانئ حصه ده ، چې په موزوباندی مسح کول ئې جائز کړيدي ، او عملًا د نبی کریم ﷺ نه ثابته ده ، د عمرو بن أمية رضى الله عنه نه روايت دی ، هغه فرمائی:

«رَأَيْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يَمْسَحُ عَلَى عِمَامَتِهِ وَخُفَّيْهِ» رواه البخاری : ٢٠٥.

ترجمه : ما ولیدلو نبی کریم ﷺ چی په پټکي او موزو باندی ئې مسح کوله ، بل روايت كښې مغيرة بن شعبه رضى الله عنه فرمائی:

قَالَ بَيْنَا أَنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِصلى الله عليه وسلم ذَاتَ لَيْلَةٍ إِذْ نَزَلَ فَقَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ جَاءَ فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ مِنْ إِدَاوَةٍ كَانَتْ مَعِي فَتَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ» (متفق عليه).

ترجمه : يو شپه زه درسول الله ﷺ سره ووم چه هغه کوز شو نو قضائی حاجت ئی وکړو بيا راغی نو زما سره يو لوښی وو هغې کښې اُوبه وی ، ما هغه ته اُوبه واچولي نو د هغي نه ئي اودس وکړو ، او په موزو باندی ئی مسح وکړه .

موزو باندی دمسح دپاره څه شرطونه دی :

*داودس په حالت کښې به موزی اچولی شوی وی .

*د مسح طريقه داده چه لوند لاس به د خپو دپاسه راښکلی شی ، د ګوتو سرونو نه به ئی بره پوندئ ته راکاږي ، د خپو لاندی حصه به نه مسح کوی .

* په حالت داقامت کښې د مسح موده يوه ورځ او يوه شپه ده

*او د مسافر دپاره د مسح موده دری ورځې او دری شپې ده ، چې د مسحی موده ختم شی نو مسحه هم ختمه شی ، دغه رنګه د موزو په ويستلو سره هم مسح ختمه شی ، او د غسل د واجب کيدو سره هم مسح باطله شی ، ځکه چې دغسل دپاره موزی ويستل لازم دی .

اودس ماتونکی څیزونه :

(١) د انسان د مخکښې او روستو دواړو لارونه چی څه خارج شي ، مثلًا هواء ، لوئی يا واړه بول ، نطفه ، مذی ، ودی او وينه وغيره.

(٢) خوب،(٣) د اوښ د غوښی په خوراک سره ، لکه چی په صحيح حديث کښې راغلی دی.

(٤) بی هوشی راشي ، يا عقل زائله شی .